**د ملي راډيو تلويزيون خبريال سيد حامد نور د وژنې دغندلو په اړه دافغانستان د بشري حقونو د خپلواک کميسيون اعلاميه**

دافغانستان د بشري حقونو خپلواک کميسيون دملي راډيو تلويزيون د تکړه خبريال دوژنې د غندلو ترڅنګ ددغې پېښې له امله د نوموړي کورنۍ او د هيواد دمطبوعاتو کورنۍ ته تسليت وړاندې کوي.

دا يوه ښکاره خبره ده چې د ژوند حق، د بيان او عقيدي د آزادي او مالوماتو ته لاسرسی حقونه د هيوادوالو د بشري حقونو په کتار کې راځي. له دغه حقونو څخه هغه وخت يو څوك برخمنيدای شي، چې د مطبوعاتي ډګر د فعالانو له پاره د امن فضا موجوده وي. دا د دولت مکلفيت دی چې د ټوليزو رسنيو چلونکو ته خوندي چاپيريال رامنځ ته کړي. په ناوړه توګه د سيد حامد نوري وژنه ددې ښودنه کوي چې په هيواد کې د مطبوعاتو کورنۍ له سختو ننګونو او ګواښونو سره مخ ده.

دافغانستان د بشري حقونو د خپلواك کمېسيون مشره ډاکټره سيما سمر د ژورناليستانو له پاره د رواني او فيزيکي امنيت د نشتوالي په اړه خپله ژوره انديښنه څرګندوي او وايي :

دژورنالسيتانو ګواښل، ويرول، پرهغو فشاراچول او وژل د بشري حقونو څخه جدي سرغړونه ده او په ټولنه کې يې انساني ارزښتونه او رواه آزادي ګانې له سختو ګواښونو سره مخ کړي دي.

د افغانستان د بشري حقونو خپلواك کمېسيون له حکومت او اړوندو ارګانونو غواړي چې ددغې پېښې په اړه دي جدي څېړنې وکړي او د عاملانو د تعقيب، نيولو، محکمه کولو او سزا ورکولو په برخه کې دې لازم تدابير ونيسي.

کابل: د افغانستان دبشري حقونو خپلواك کميسيون

۱۶/۶/۱۳۸۹